

# آدابِ دُعا (پشتو)

پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ

اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتے کيږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام

ترجمه: اے الله جَلَّ جَلالُهٗ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړے او په مونږه خپل رحمت رانازل کړے! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفکر بيروت)

طالب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: آدابِ دُعا

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ الۡمَدينه کراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دے رسالے چاپ کولو اجازت نشته

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پانړے کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه ته رجوع اوکړئ.

# آدابِ دُعا

د دعوتِ اسلامي شُعبه اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة دا رِساله "آدابِ دُعا" په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دے رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب دَ ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرے په دے ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چې مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فہرست

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# آدابِ دُعا

## د دُرود شريف ليكلو بَرَكت

د حُضُور نبيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: 'اَلدُّعَاءُ مَحْجُوْبٌ عَنِ اللّٰهِ حَتّٰى يُصَلّٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ' يعني دُعا د الله پاك نه حِجاب كښے ده (يعني نه قبليږي) تر څو پورے چې په محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د هغوئي په آل باندے دُرُود اُو نه ليږلے شي.

(شُعَبُ الْاِيْمَان باب فِي تعظيم النبی...الخ ج۲ ص ۲۱٦ حديث۱۵۷٦)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُعا طريقه مُصطَفٰى ﷺ بنودلي ده

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو داسے كس د عِيادَت [يعني تپوس] د پاره تشريف يوړلو چې هغه ډير كمزورے شوے وو. نبئ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته اُوفرمائيل: آيا تا به د الله پاك نه څه دُعا كوله؟ هغه عرض اوكړو: آو جي! ما به دا دُعا كوله چې: يا الله عَزَّوَجَلَّ! كه ته ما ته په آخرت كښے څه سزا راكولو والا ئے نو هغه په دُنيا كښے راكړے. نبئ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: سُبْحٰنَ الله! ته د هغے

د برداشت كولو طاقت نه لرے، ته داسے ولے نه وائے: اے زمونږه ربـه! مونږ ته په دُنيا او آخرت كښے خير راكړے او مونږه د دوزخ د اور نه اوساتے. بيا خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه د پاره دُعا اوكړله نو **الله** پاك هغه ته شِفا وركړه. (مُسلِم، كتاب الذكر و الدعا بتعجيل الخ، ص ۱۱۰۸، حديث: ۲۸۳۵)

## د دُعـا اَهَمِّيَّت او فضيلت

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! د دُعا په اهميت هر مسلمان پوهيږي. د دے بيان شوي حديث نه د دُعا د اَهَمِّيَّت اندازه لګيدے شي چې مونږ ته د **الله** پاك نه څه غوښتل پكار دي، په كومو الفاظو او څنګه غوښتل پكار دي. زمونږه خالِق و مالِك عَزَّوَجَلَّ څومره كريم دے چې د [دُعا] غوښتونكو نه خوشحاليږي او په نه غوښتونكو غضب كوي، لِـهذا مونږ ته پكار دي چې د **الله** كريم نه خپل حاجتونه او خير غواړو. د **الله** پاك نه خير غوښتلو ته "دُعـا" وائي، او "دُعـا" عبادت دے، نبئ پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: 'اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ' يعني دُعـا د عبادت مغز دے. (تِرمِذِی، كتاب الدعوات باب ما جاء فِی فضل الدعا، ج ۲ ص ۲۴۳ حديث ۳۳۸۲) 'اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤمِنِ وَعِمَادُ الدِّيْنِ وَ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ' يعني دُعـا د مومن وسله، د دين ستن او د آسمان او زمكے نُور دے. (اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكم، كتاب الدعا، الدعاء سلاح المؤمن...الخ، ج ۲ ص ۱۶۲ حديث ۱۸۵۵) دُعـا داسے عبادت دے چې هغه د دے خبرے احساس وركوي لكه بنده چې **الله** پاك سره كلام كوي. د دُعـا په ذريعه بنده د **الله** پاك په باركاه كښے خپل حاجتونه او ضرورتونه پيش كوي. دُعـا بنده د خپل ربِّ كريم باركاه

ته رسوي، د هغه په بارګاه کښے د عاجزۍ کولو ذريعه ده او د هغه د عظمتونو د بيانولو ذريعه ده. چا ته چې د دُعـا توفيق ورکړے شو هغه ته د ډير لوئ خير توفيق ورکړے شو او د هغه د پاره د خير دروازے برسيره کړے شوے او د چا د پاره چې د دُعـا دروازه بنده شوه د هغه د پاره د خير او عافِيَت دروازه بنده شوه.

## دُعـا نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه

دُعـا چې دومره اهم عبادت دے نو پـکار ده چې د دے نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه هُم اوکړے شي، ځکه چې د ښه نِيَّت نه بغير د يو عملِ خير ثواب هُم نه حاصليږي. څومره چې ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات حاصليږي. دُعـا کولو نه مخکښے کيدونکي يو څو ښه ښه نِيَّتونه اوګورئ:

﴿۱﴾ د اللّٰه پاك د رضا حاصلولو او ثواب حاصلولو د پاره به دُعـا کووم ﴿۲﴾ په دے حُکمِ قرآني ﴿اُدۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ ؕ [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِيمان: ما نه دُعا اوکړئ زه به ئے قبلووم- (پ۲٤، المؤمن:۶۰)﴾ باندے د عمل کولو په نِيَّت به دُعـا کووم ﴿۳﴾ په اَحادِيثِ مبارَکه کښے د دُعـا بيان شوي فضائل به حاصلووم ﴿٤﴾ بَتَکَلُّف [يعني په کوشش سره به] د مُقَفَّع وَ مُسَجَّع [يعني هَم قافِيه او هَم وزن] الفاظو نه ځان ساتم ﴿۵﴾ د رياکارۍ د ژړا نه به پرهيز کووم ﴿۶﴾ دُعا کښے به د خُشُوع و خُضُوع پيدا کولو کوشش کووم ﴿۷﴾ د دُعا د ظاهري او باطِني آدابو لحاظ به ساتم ﴿۸﴾ دُعا به د حَـمدِ اِلٰهی او دُرُود شريف نه

شروع کووم ﴿۹﴾ په آخره کښې به د دُرُود شریف آیت او درود شریف لوَلم ﴿۱۰﴾ د شعرونو وئیلو وخت کښې به په خپل اخلاص نظر ساتم[1] ﴿۱۱﴾ دُعا به په دے آیتونو ختمووم: سُبۡحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوۡنَ ﴿۱۸۰﴾ وَ سَلٰمٌ عَلَى الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿۱۸۱﴾ وَ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۸۲﴾ (پ۲۳،الصّٰفّٰت:۱۸۰،۱۸۱،۱۸۲)

## د دُعـا آداب په نظر کښے ساتئ

د دُعـا د اَهَمِّیَّت او فضیلت په وجه د دے د آدابو عِلم کېدل او د دُعـا په دوران په هغے عمل کول ضروري دي. مونږه وِینو چې که انسان د دُنیوي بادشاه یا یو عُهده دار سره خپل څه غرض یا حاجت لري نو په انتهائي ادب و احترام او تَوجُّه هغه ته خپل درخواست پیش کوي ځکه چې هغه پوهېږي چې که د بے پرواهئ او غفلت نه مے کار واغستو نو کار به مے اُو نه شي. نو غور اوکړئ چې د دُنیوي بادشاهانو، د هغوئي دربارونو او د عُهده دارو خنګ ته د تللو په آدابو باندے د عمل کولو دا حال دے نو اللہ پاك چې هغه د بادشاهانو هُم بادشاه دے، نو په دے هر عقلمند پوهېږي چې د هغه په بارګاه کښے خپل حاجت پیش کولو کښے څومره اهتمام پکار دے. لِـهذا چې کله هُم دُعـا غواړئ نو انتهائي تَوجُّه او سکون سره او د دُعـا د آدابو لحاظ ساتلو سره ئے غواړئ اِنۡ شَآءَاللّٰه دُعا به قبلیږي.

---

[1] .... د امیرِ اهلسنت، جانشینِ امیرِ اهلسنت او نګران و اَراکِینِ مجلِسِ شُوریٰ نه علاوه یو مبلغ ته هم په دُعا کښے په طرز کښے د اشعارو وئیلو تنظیمي طور اجازت نشته. (مرکزي مجلسِ شوریٰ)

## دُعا کښے د الفاظو انتخاب

د دُعا په دوارن کښے د بهترينو الفاظو انتخاب بنده د پريشانئ نه بچ کولے شي او غير مُحتاط الفاظ بنده په آزمائش کښے هُم اخته کولے شي، په دے باندے د دے واقعے نه د ځان پوهه کولے شئ:

**بـني اِسرائيل** کښے بَسُوس نومے يو کس وو، هغه ته حُکم اوشو چې ستا درے دُعاګانے به قبليږي. هغه دا دُعـا اوکړه چې زما ښځه د بـني اِسرائيلو د ټولو نه ښائسته ښځه جوړه شي، د هغه ښځه د بـني اِسرائيلو د ټولو نه ښکلې ښځه جوړه شوه خو د ښائست تَکَبُّر ښځه د خاوند نافرمانه جوړه کړه. بَسُوس چې ترينه ډير تنګ شو نو هغے ته ئے د غپلو والا سپئ جوړيدلو ښيرے اوکړے، دا دُعا هُم فوراً قبوله شوه او هغه سپئ جوړه شوه. د بَسُوس ځامنو چې د خپلے مور حالت اوليدو نو پلار ته ئے سفارِش اوکړو، نو هغه دُعـا اوکړه چې: يا اِلٰهی! دے ته د مخکښے په شان شکل و صورت ورکړے. دا دُعا هُم قبوله شوه او هغے ته د مخکښے په شان شکل ورکړے شو، نو دغسے بَسُوس د الفاظو غلط انتخاب اوکړو او د قَبولِيَّت شرف حاصلوونکي درے واړه دُعاګانے ئے ضائع کړے.

(تفسيرِ بغوي، پ۹، الاعراف، تحت الآية ۱۷۵، ۱۸۰/۲)

عُلَمائے کرامو د دُعـا يو څو آداب بيان کړي دي: [دُعا غوښتونکي له پکار دي چې] ❁ باطَهارت وي ❁ د قِبلے طرف ته ئے مخ وي ❁ پوره تَوجُّه سره دُعا اوکړي ❁ د دُعـا نه مخکښے او وروستو دِ په نبئ کريم صَلَّى الله

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے دُرُود اُووائي ۞ لاسونه دِ آسمان طرف ته [خواره] اوچت کړي او خپله دُعا کښے دِ مسلمانان هُم شامل کړي ۞ د دُعا د قَبولِيَّت د وختونو مَثَلًا د جُمُعے په ورځ د خُطبے د وخت[2]، د باران وريدلو د وخت، د روژه ماتي د وخت، د شپے د دريمے حِصّے د وخت او د ختمِ قرآن د مجلِس وغيره لحاظ دِ اوکړي [يعني دے وختونو کښے د دُعا قبليدو زيات امکان وي] . (روحُ المعانی، پ۸، الاعراف، تحت الآية: ۵۵، ۵۲۷/۸ ملتقطاً)

## دُعا کښے د لاسونو اوچتولو طريقه

حضرتِ سَيِّدُنا عَلَّامه اِسمٰعِيل حَقِّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: غوره دا دي چې په دُعا کښے دواړه لاسونه خواره کړے شي او په مينځ کښے ئے فاصله پريښودے شي اګر که لږه [فاصله] وي. يو لاس د بل د پاسه کول نه دي پکار. (تَفسِيرِ رُوحُ البَيان، پ۸، الاعراف تحت الآية ۵۵، ۱۷۸/۳ ملتقطاً)

شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي ضِيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دُعا شروع کولو نه مخکښے د لاسونو اوچتولو آداب داسے بيانوي: د دُعا په آدابو کښے دي چې کله هُم دُعا غواړئ نو نظر ښکته ساتئ، ګني د نظر کمزوري کيدو انديښنه ده، د دُعا د پاره دواړه لاسونه داسے اوچتوئ چې د سينے په سمي کښے وي... [يا د

---

2. غوره دا ده چه د دواړو خُطبو په مينځ کښے د لاسونو اوچتولو نه بغير او د ژبے خوزولو نه بغير دُعا اوکړے شي. (نماز کے احکام، ص ۴۱۲ مَكْتَبَةُ الْمَدِينه بابُ الْمَدِينه کراچی)

اُوکو په سمي کښې وي... [يا د] مخ په سمي کښې وي... يا دومره اوچت شي چې د ترخونو سپين والے ښکاره شي... ځلورو واړو صورتونو کښې ورغوي د آسمان طرف ته خواره ساتئ ځکه چې د دُعـا قِبله آسمان ده.

(فضائل دعا، ص ٦٧، ٧٥، مُلَخَّصاً مَكْتَبَةُ الْمَدِينه کراچی)

## د کومو خبرو دُعـا کول منع دي؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دُعـا کوونکي ته دا عِلم کيدل هُم ضروري دي چې هغه د **الله** تعالٰی د بارګاه نه څه اوغواړي او څنګه ئې اوغواړي؟ بعضے وخت خلق د ممنوع او ناجائزه څيزونو دُعـا کوي او بعضے وخت خو دُعـا د جائزو څيزونو مُتَعَلِّق وي خو الفاظ داسے استعمالوي چې هغه د **الله** پاك د شان لائق نه وي او کله د خير غوښتلو په ځائے آفت غواړي څنګه چې نبئ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو دُعـا کوونکي نه دا واوريدل: "اِلٰهی! زه تا نه صبر غواړم." خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: "ته آفت غواړے، د **الله** تعالٰی نه خير اوغواړه." (ترمِذی کتاب الدعوات، باب (ت.....)، ٣١٢/٥، حديث ٣٥٣٨)

د دے حديثِ پاك نه لاندے مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: معلومه شوه چې د دُعا الفاظ هُم ښه پکار دي او نِيَّت هُم اعلٰی، [ځکه چې] هلته د لفظ سره سره نِيَّت هُم کتلے کيږي.

(مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيح ج ٤ ص ٤٠)

# ازمیښت مه غواړئ

حضرتِ سَیِّدُنا امام محمد بِن اِدرِیس شافعي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په يوه بيمارئ کښې داسې دُعـا اوکړه: يا الله عَزَّوَجَلَّ! که ستا رضا په هُم دے کښې وي نو په دے بيمارئ کښې اضافه اوکړے. د هغوئي استاذ حضرت امام مُسلِم بِن خالِد زَنجِي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ چې دا دُعـا واوريدله نو اُوئے فرمائيل: اے محمد! بس کړه، الله پاك نه د صِحَت سوال اوکړه، زه او ته ازميښت (برداشت کولو) والا خلقو کښې نه يُو. (تَنبِیہُ الۡمُغتَرِین و من اخلاقهم تمنی الموت اذا خافوا الخ، ص ٤٥ مُلَخَّصاً)

د کومو خبرو دُعـا کول چې منع دي، د هغے مُتَعَلِّق د دعوتِ اسلامي د د اِشاعتي اِدارے مَکۡتَبَۃُالۡمَدِینه چاپ شوي کتاب ''فضائلِ دُعا'' نه يو څو مَدَنـي ګُلونه ستاسو په خدمت کښې وړاندے کووم:

﴿۱﴾ په دُعـا کښې دِ د حد نه نه تيريږي لکه د انبيائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام مرتبه غوښتل يا آسمان ته د ختلو خواهش کول، او د دواړو جهانو ټولے ښيګړے او ټول صفتونه غوښتل هُم منع دي ځکه چې په دے صفتونو کښے د انبيائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام مرتبے هم شاملے دي او هغه نه شي حاصليدلے. لِـهذا داسے نه شي وئيلے چې د دواړو جهانو ټولے ښيګړے راکړے. البته دا دُعـا کيدے شي چې مونږ ته د دِين او دُنيا ښيګړے راکړے.

﴿۲﴾ څه چې مُحال (يعني نامُمکن) يا مُحال ته نزدے وي د هغے دُعـا دِ نه کوي، لِـهذا د هميشه د پاره تندرُستي او عافِيَت غوښتل چې بنده دِ ټول عُمر کله هُم په څه تکليف کښے نه اخته کيږي، دا د مُحالِ عادي دُعـا کول دي لِـهذا داسے نه شئ وئيلے چې "يو مسلمان دِ هُم کله هُم نه بيماريږي"، البته دا دُعـا کيدے شي چې [يا الله] زمونږه بيماران جوړ کړے. هُم دغسے د اوګږدے ونے والا [يعني دنګ] ګس د پاره د وړے ونے کيدلو [يعني قد وړوکي کيدلو] يا د وړے سترګے والا د پاره د غټے سترګے دُعـا کول منع دي ځکه چې دا د داسے اَمر دُعا ده چې په هغے قلم جاري شوے دے (يعني د دے فيصله شوي ده لِـهذا اوس دِ په دے صبر کوي او دُعـا دِ نه کوي).

﴿۳﴾ د ګناه دُعـا دِ نه کوي چې [يا الله] ما ته پرَدے مال راکړے ځکه چې د ګناه سوال کول هُم ګناه ده.

﴿٤﴾ د قَطعِ رِحم (يعني د خپلوانو مينځ کښے د تَعَلُّق ماتيدلو) دُعا دِ نه کوي، مَثَلًا دا دِ نه وائي چې: د فلانکي او فلانکي خپلوانو په مينځ کښے دِ جګړه اوشي.

﴿۵﴾ **الله** تعالیٰ نه دِ صرف حَقِير [يعني سپك] څيز نه غواړي ځکه چې **ربّ** تعالیٰ غني دے. مَثَلًا دُنيا سپکه او ذليله ده، د دے د ضرورت نه زيات طلب کول ناخوښه ګنړلي شوي دي لِـهذا په دُعـا کښے صرف په مال و دولت

کښې د زیاتوالي سوال کول او د آخرت د بهترئ بالکل سوال نه کول د حَقِیر څیز سوال کول دي، د دے مُـمانَعَت دے.

﴿٦﴾ د غم او مصیبت نه تنګیدلو باندے دِ د خپل مرګ سوال نه کوي ځکه چې د مسلمان ژوند د هغه په حق کښې غنیمت دے، البته داسے دُعا کولے شي چې "خُدایا! ما ژوندے اوساتے تر څو پورے چې ژوند زما په حق کښې بهتر دے، او ما ته وفات راکړے څه وخت چې زما په حق کښې بهتر وي"، لِـهذا دا دُعـا نه شي کولے چې "اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! نوره خو راله مصیبتونو او تکلیفونو ملا ماته کړه، د صبر پیمانه مے هُم ډکه شوه لِـهذا اے مولا! بس نور مرګ راکړے چې د دے تکلیفونو نه خلاص شم."

﴿٧﴾ د شرعي اجازت نه بغیر دِ د چا د مرګ او خرابئ (بربادئ) دُعـا نه کوي، البته که د یو کافِر د ایمان نه راوړلو یقین یا غالب ګمان وي او (د هغه) په ژوندي اوسیدلو کښې د دِین نقصان کیږي، یا ئے د یو ظالِم نه د توبه کولو او ظُلم پریښودلو اُمِّید نه وي او د هغه مړ کیدل د مخلوق په حق کښې فائده مند وي نو داسے کس ته ښیرے کول صحیح دي.

﴿٨﴾ یو مسلمان ته دِ دا ښیرے نه کوي چې "ته دِ کافِر شے" ځکه چې د بعضے عُلَماء په نزد (داسے دُعـا کول) کُفر دے او تَحقِیق دا دے چې که د کُفر ښه ګڼړلو یا د اسلام بد ګڼړلو په وجه داسے وائي نو بیشکه کُفر دے ګني غټه ګناه ده ځکه چې د مسلمان بد غوښتل حرام دي، خُصوصاً

دا بد غوښتل (چې د فلانکي ايمان دِ بر باد شي، دا) خو د ټولو بدو غوښتلو نه بد تر دي.

﴿۹﴾ په يو مسلمان دِ لعنت نه کوي او هغه ته دِ مَردُود او مَلعُون (يعني لعنتي) نه وائي او د کوم کافِر چې په کُفر باندے مړ کيدل يقيني نه وي په هغه دِ هُم د نوم اخستلو سره لعنت نه کوي، هُم دغسے په ماشي، هوا، جَماداتو (يعني بے ساه څيزونو يعني کانړي، اوسپنه وغيره) او حيواناتو باندے لعنت کول ممنوع دي. البته په لړم وغيره بعضو حيواناتو په حديثِ پاك کښے لعنت راغلے دے.

﴿۱۰﴾ يو مسلمان ته دِ دا ښيرے نه کوي چې "په تا دِ د خُدائے غضب نازل شي او ته دِ اور يا دوزخ ته داخل شے" ځکه چې په حديث شريف کښے د دے مُـمانَعَت وارِد دے (يعني په حديثِ پاك کښے د داسے دُعا نه منع راغلي ده).

﴿۱۱﴾ څوك چې کافِر [يعني په کُفر] مړ شو، د هغه د پاره د بخښنے دُعـا کول حرام او کُفر دے.

﴿۱۲﴾ دا دُعـا کول چې: "يا **اللّٰه**! د ټولو مسلمانانو ټول گناهونه معاف کړے." جائز نه دي ځکه چې په دے کښے د هغه حديثونو تکذِيب (يعني دروغ گنړل) دي چې په هغے کښے د بعضو مسلمانانو دوزخ ته تلل وارِد دي، البته داسے دُعـا کول چې "د ټول اُمَّتِ **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مغفرت (يعني بخښنه) اوکړے، يا د ټولو مسلمانانو مغفرت اوکړے، جائز

دي.“ په دواړو دعاګانو کښې فرق دا دے چې وړومبۍ دُعا (يعني د ټولو مسلمانانو ټول ګناهونه معاف کړے، د دے) نه دا لازِم راځي چې يو مسلمان دِ هُم د يو ساعت د پاره هُم دوزخ ته نه ځي حالانکه د بعضو مسلمانانو د خپلو ګناهونو په وجه دوزخ ته تلل طے شوي [يعني مُقَرَّر شوي] دي لِـهذا په دے الفاظو دُعـا نه شئ غوښتلے او دويمه دُعـا (د ټول اُمَّتِ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مغفرت (يعني بخښنه) اوکړے، يا د ټولو مسلمانانو مغفرت اوکړے [په دے دُعا]) کښے دا قَباحَت (يعني بدي) نشته ځکه چې په دے کښے صرف د ټولو مسلمانانو د پاره مغفرت غوښتلے شوے دے او دا خو د اَحادِيثو نه ثابته ده چې جَهنَّم ته د تلونکو مسلمانانو به هُم آخر مغفرت اوکړے شي او هغوئي به د دوزخ نه ويستلے شي او جَنَّت ته به داخل کړے شي.

﴿۱۳﴾ خپل ځان او خپلو دوستانو او اَحبابو، او کور والؤ او اولاد ته دِ ښيرے نه کوي، څه پته ده که د قَبولِيَّت وخت وي، او بيا د دُعـا د اثر په ظاهريدو پښيمانه وي.

﴿۱٤﴾ کوم څيز چې ورته حاصل (يعني ورسره) وي د هغے دُعـا دِ نه کوي مَثَلًا سړے دِ داسے نه وائي چې ”يا الله عَزَّوَجَلَّ! ما سړے جوړ کړے“ ځکه چې دا اِستِهزا (يعني توقه جوړول) دي البته داسے دُعـا چې په هغے کښے د شريعت د حُکم تعميل (يعني شرعي حُکم باندے د عمل کولو) يا د عاجزۍ او بندګۍ د اظهار يا د **ربّ** تعالیٰ او د نَبِـيّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت يا دِين يا اَهلِ دِين طرف ته د رَغبَت يا د کُفر او کافرانو نه د نفرت وغيره فائدے

اوځي نو هغه جائزه ده اګر چه د هغه آمر حاصليدل يقيني وي لکه دُرُود شريف وئيل، (د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د مُقامِ) وسيله دُعـا کول، (د مسلمان کيدو باوجود ځان د پاره) د صِراطِ مُستقِيم (يعني د نيغے لارے) او د اللّٰه و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دُښمنانو باندے د غَضَب او لعنت دُعـا کول.[3]

## اللّٰه تعالیٰ په کومو نومونو يادول منع دي؟

دُعـا کوونکي ته دا معلومات کيدل هُم ضروري دي چې په کومو کومو نومونو **اللّٰه** تعالیٰ يادولے شي او په کومو ئے نه شي يادولے؟ د **اللّٰه** تعالیٰ فرمانِ عاليشان دے: ﴿وَ لِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۪ وَ ذَرُوا الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ فِیْۤ اَسْمَآىٕهٖ ؕ﴾ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: "او هُم **اللّٰه** لره دي ډير ښه نومونه نو هغه په هغے [نومونو] ياد کړئ، او هغه خلق پريږدئ کوم چې د هغه په نومونو کښے د حق نه اُوځي."

د اللّٰه تعالیٰ په نومونو کښے د حق او استِقامت نه لرے کيدل په ډيرو طريقو دي. **يوه دا ده** چې د هغه نومونه څه ورانول او په غيرو باندے د هغے اِطلاق کول، څنګه چې مُشرِکينو د اِلٰه نه "لات" **عزِيز** نه "عُزّیٰ" او **مَنّان** نه "مَنات" جوړ کړي وو او دا ئے د خپلو بُتانو نومونه ايښودي وو، دا په

[3] فضائلِ دُعا، ص ۱۷۲ تا ۲۱۵ ماخوذاً مَكْتَبَةُ الْمَدِينه بابُ الْمَدِينه کراچي

نومونو کښې د حق نه اووښتل او ناجائزه دي. **بله دا** چې د **الله** تعالیٰ د پاره داسې نوم مُقَرَّرول چې هغه په قرآن او حديث کښې نه وي راغلے، دا هُم جائز نه دي لکه **الله** تعالیٰ ته سخي وئيل ځکه چې د **الله** تعالیٰ نومونه تَوقِيفِيه (يعني د شريعت له طرفه مُقَرَّر شوي) دي، **دريمه دا** چې د حُسنِ اَدَب رِعايت نه کول. **څلورمه دا** چې د **الله** تعالیٰ د پاره څه داسې نوم مُقَرَّرول چې د هغے معنیٰ فاسِده وي دا هُم سخت ناجائزه دي، لکه رام (يعني په هر څيز کښې حُلُول شوے، يعني ګډ شوے) او پرماتُما (د هندوانو د درے ديوتاګانو بَرهما، وِشنو او شِو مشترکه نوم) وغيره. **پينځمه دا** چې د داسې نومونو اِطلاق کول چې د هغے معنے معلومے نه وي او دا معلومات ئے نه شي کيدلے چې هغه د جلالِ اِلٰهی لائق دي او که نه. (تفسير صِراطُ الْجِنان ۳۰/٤٨٠تا٤٨١)

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د **الله** تعالیٰ نومونه توقِيفي دي، چې شريعت کوم ښودلي دي، په هغه نومونو يادول پکار دي، له خپل طرفه نومونه ايجاد کول نه دي پکار، اګر که ترجمه ئے صحيح وي لِهذا **ربّ** ته عالِم وئيلے شئ خو عاقِل نه شئ وئيلے، هغه ته به **جَوَّاد** وائے خو سخي به نه وائے، حکيم به وائے خو طبيب به نه وائے. خُدائے د **ربّ** نوم نه دے بلکه د يو صفَت يعني د مالِك ترجمه ده لکه پروردګار، پالونکے، بخښونکے وغيره. (مِرآةُ الْمَنَاجِيح ج۳ ص۳۲۵)

په کومو الفاظو چې **الله** پاك نه شئ يادولے په هغے كښے يو څو دا دي:

## اے حاضر! اے ناظِر مه وائے

**الله** پاك ته حاضر و ناظر وئيل منع دي، چنانچه **فَتَاوٰیرَضَوِيَّه** كښے دي: **الله** تعالىٰ شهيد و بصِير دے، هغه ته حاضر و ناظر وئيل نه دي پكار، تر دے چې بعضے عُلَماء په دے باندے د تَكفِير (يعني د حُكمِ كُفر لګولو) خيال كړے دے او [بيا] آكابِرو (يعني غټو عُلَمائے كرامو) ته د دے د نفي حاجت شو، **مجموعه** عَلَّامه اِبنِ وَهبان كښے دي: 'يَا حَاضِرُ يَا نَاظِرُ لَيْسَ بِكُفْرٍ' يعني اے حاضِر! اے ناظِر! وئيل كُفر نه دے." څوك چې داسے كوي، خطا كوي، د دے نه بچ كيدل پكار دي. (فَتَاوٰیرَضَوِيَّه.ج.١٤ص.٦٨٨،٦٨٩) لِـهذا مونږ ته پكار دي چې **الله** تعالىٰ ته د حاضِر و ناظِر وئيلو په ځائے سَمِيْع و بَصِيْر وائيو.

## د داسے جُملو نه لازمي بچ اوسئ

"اے پاس والا! زما سوال قبول كړے." په دُعا كښے او د دُعا نه علاوه هُم د **الله** تعالىٰ د پاره د دے ګلِماتو وئيلو اجازت نشته.

هُم دغسے دُعا كښے د داسے وئيلو نه هُم بچ اوسئ: "اے آسمان نه كتونكيه! زما سوال قبول كړے! " البته داسے وئيلو كښے باك نشته چې "اے زمونږه زړونو باندے نظر ساتونكيه! زما سوال قبول كړے!"

په دُعـا کښې لاسونه آسمان طرف ته اوچتولے کيږي ځکه چې د دُعا قِبله آسمان دے، لِهذا په اوچتو لاسونو [يعني دُعـا کولو کښې] داسے الفاظ وئيل حرام دي چې اے عرش باندے اوسيدونکيه! مونږه ستا طرف ته لاسونه پورته کړي دي. البته داسے وئيلو کښے باك نشته چې: يا **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! مونږه ستا په بارګاه کښے لاسونه پورته کړي دي.

پاس منع کړو جُملو نه د **اللّٰه** پاك د پاره طرف ثابتيږي او د هغه ذات د جِهَت [يعني طرف] نه پاك دے. حضرتِ سَيِّدُنا عَلَّامه سَعدُ الدِّين تَفتازاني رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه فرمائي: **اللّٰه** تعالیٰ په مکان [يعني ځائے] کښے کيدو نه پاك دے، او چې هغه په مکان کښے کيدو نه پاك دے نو د جِهَت (يعني طرف) نه هُم پاك دے. هُم دغسے د پاس او لاندے کيدو نه هُم پاك دے (شَرْحُ الْعَقائد، ولا يتمكن فِی مكان ص۱۳۱ ملتقطاً) حضرتِ عَلَّامه اِبنِ نُجيم مِصري رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه نقل کوي: خوك چې **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ پاس يا لاندے قرار کړي نو په هغه به حُکمِ کُفر لګولے کيږي." (بَحْرُ الرَّائق، کتاب السير، باب احکام المرتدين، ج ۵ ص ۲۰۳ ماخوذاً) خو که خوك دا جُمله [د شان] د بُلَندئ او برترئ په معنیٰ کښے اِستعمالوي نو په قائل [يعني وئيونکي] باندے به حُکمِ کُفر نه کوو خو دے قَول ته به بد وائيو او قائل به د دے نه منع کوو (فَتَاوىٰ فيض الرسول، ج۱، ص۳)

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه فرمائي: د **اللّٰه** تعالیٰ د پاره مکان [يعني ځائے] ثابتول کُفر

دے ځکه چې هغه د مکان نه پاك دے، داسے وئیل چې: ”پاس خدائے دے لاندے ته ئے“ دا کَلِمهٔ کُفر ده. (بهارشریعت ج۲ص ٤٦٢)

## د خپل سرکار په خاطر مه وائے

په دُعا کښے د الفاظو تَکرار پوره احتیاط سره کوئ ځکه چې معمولي شان غَلَطي هُم ډیره خطرناکه کیدے شي مَثَلًا اے **اللہ** پاکه! د خپل محبوب په خاطر! د خپل حبیب په خاطر! د خپل نبي په خاطر! زمونږ د سرکار په خاطر! زمونږ د آقا په خاطر! مونږه اوبخښے.... اوس که دلته بے خیالي اوشي نو د ژبے د تیزئ په وجه د ”ستا ستا“ په تَکرار کښے دا الفاظ هُم وتلے شي چې: ” اے **اللہ** پاکه! ستا د سرکار په خاطر! ستا د آقا په خاطر“. او هُم دغسے دا الفاظ هم د بے تَوَجُّهئ په وجه په ژبه راتلے شي: ”اے **اللہ** مونږ ته په جَنَّت کښے ستا د آقا ګاونډ رانصیب کړے.“ لِهذا احتیاط سره د دے ټولو [یعني غلطو جُملو] نه بچ کیدل ضروري دي.

## که ته اوغواړے نو مُشرِك به هُم اوبخښے! داسے مه وائے

په دُعا کښے د **اللہ** تعالیٰ د وسیع رَحمت په تَذکِره کولو کښے د بے تَوَجُّهئ په وجه دا الفاظ هُم په ژبه راتلے شي: ”اے **اللہ** ته غَفّار ئے، ته رحمٰن ئے، ته رحیم ئے، مولا! **که ته اوغواړے نو کافِر او مُشرِك به هُم اُوبخښے،** مَولا! مونږ خو مسلمانان یُو، ستا د محبوب اُمَّتیان یُو، مَولا! زمونږه ګناهونه معاف کړے.“ په دے الفاظو کښے دا وئیل ”**که اللہ تعالیٰ اوغواړي نو کافِر او مُشرِك به هُم اوبخښي**“ کُفریه جُمله ده (ځکه چې **اللہ** تعالیٰ د دے فیصله کړي ده چې

خوك د کُفر په حالت مړ شي، د هغه بخښنه به نه كوي). (ایمان کی حفاظت ص۷۳) ځنګه چې په پينځمه سيپاره سُوْرَةُالنِّسآء آيت نمبر 48 كښې اِرشاد دے: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَ يَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ۚ﴾ [مَفهُوم]ترجمهٔ كنزُالايمان: بيشكه اللّٰه تعالٰى دا [ګناه] نه بخښي چې هغه سره دِ شِرك اوكړے شي او د كُفر نه لاندے چې هر څه دي چا له چې اوغواړي معاف ئے كړي.

## اے سخي! سخاوت اوكړے! مه وائے

د اللّٰه پاك د پاره د "سخي" الفاظ اِستعمالولو په ځائے د "جَوّاد" لفظ اِستعمالوئ ځكه چې مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د عَرَبو په مُحاوَره كښے سخي هغه ته وائي ځوك چې بخپله هُم اوخوري او په نورو ئے هُم اوخوري." "جَوّاد" هغه چې بخپله ئے نه خوري او په نورو ئے خوري. ځكه اللّٰه تعالٰى ته "سخي" نه وئيلے كيږي. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج۱ ص۲۲۱) په وومه سيپاره سُورةُالاَنعام آيت نمبر 14 كښے اللّٰه پاك اِرشاد فرمائي: ﴿وَهُوَ يُطْعِمُ وَ لَا يُطْعَمُ ؕ﴾ او هغه په نورو خوري او [بخپله] د خوراك كولو نه پاك دے.

## مونږه هير نه كړے! مه وائے

بعضے وخت دُعا كوونكے په جذباتو كښے داسے الفاظ اُووائي چې "يا اللّٰه! مونږه ته هير كړے ئے خو ته مونږه مه هيروے" دا كُفريه جُمله ده،

ځکه چې **الله** پاك د هيرولو نه پاك دے، او په كومه خبره كښے چې د **الله** تعالیٰ د پاره هيرول ثابت كړے شي خالِص كُفر دے چنانچه شپاړسمه سيپاره سُوْرَةُ طٰهٰ، آيت نمبر 52 كښے **الله** پاك اِرشاد فرمائي: ﴿لَا يَضِلُّ رَبِّیْ وَ لَا يَنْسَى ﴿۵۲﴾﴾ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: زما رب نه تيروځي او نه ترينه څه هيرېږي.

## په خپل وزګار وخت كښے زمونږه دُعا قبوله كړه! مه وائے

**الله** پاك د وزګاريدو او مصروف كيدو نه پاك دے. لِهذا دُعا كښے داسے الفاظ نه اِستعمالول فرض دي، د كومو نه چې د **الله** پاك د پاره دا مَذمُوم (يعني بد) وَصف وئيلے كيږي. مَثَلًا داسے وئيل چې "يا **الله**! مونږه سحر وختي يا د شپے په آخرئ حِصَّه كښے ستا نه دُعا كوو، "كوم به چې ستا هُم وزګار وخت وي" لِهذا زمونږه ټول حاجتونه پوره كړے." بعضے نادان كس خلقو ته سحر وختي د دُعا كولو ترغيب په داسے جُمله وئيلو وركوي چې "**سحر وختي دُعا كوه، دغه وخت الله پاك وزګار وي.**" دا كُفرِيه جُمله ده، چنانچه د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي كتاب "*ایمان کی حفاظت*" صفحه 31 كښے دي: داسے وئيل چې: **سحر وختي دُعا كوه، دغه وخت الله پاك وزګار وي** كُفر دے.

## ما باندے د تنګدستئ راوستلو ظُلم مه کوه! مه وائے

د **اللّٰه** پاك طرف ته د ظُلم نسبت کول، هغه ته ظالِم وئيل کُفر دے لِـهذا په دُعـا کښے داسے وئيل چې: ”**يا اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! **ما له رِزق راکړے او په ما باندے د تنګدستئ راوستلو ظُلم مه کوے.**“ کُفر دے. (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال و جواب ص ۱۳۳) **اللّٰه** پاك اِرشاد فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ﴾ (پ۵، النساء: ۴۰) [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: **اللّٰه** د يوے ذرّے همره ظُلم هم نه کوي.

## يا اللّٰه مياں! مه وائے

د **اللّٰه** پاك د پاره د ”مياں“ لفظ استعمالول منع دي. **اللّٰه** پاك، **اللّٰه** تعالیٰ، **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ او **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی وغيره وئيل پکار دي. اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: (د **اللّٰه** تعالیٰ د پاره) د مياں اِطلاق کول نه دي پکار (يعني وئيل نه دي پکار) ځکه چې هغه درے معنے لري، په هغے کښے دوه معنے د رَبُّ الْعِزَّت د پاره مُحال دي (يعني نه شي کيدے). د مياں (درے معنے دي) ”آقا [يعني مالِك]، [د کومے ښځے] خاوند، او د ښځو او سړو په مينځ کښے د زِنا دَلال“ لِـهذا اِطلاق ممنوع دے (يعني ځکه **اللّٰه** تعالیٰ ته مياں وئيل منع دي). (فَتَاوٰی رَضَوِيّه، ج۱۴، ص۶۱۴)

## د تلفُّظ او اِعراب درُستي

په دُعـا کښے د تَلَفُّظ او اِعرابو د صحيح کيدلو خاص خيال ساتئ

بِالخُصُوص د قرآني دُعاګانو، آيتِ دُرُود او د دُعا د ختميدلو په آيتونو كښې د تجويد د قواعدو خيال ساتئ. قرآني دُعاګانې چيك كولو د پاره يو قاري يا عالِم صاحب ته واوروئ.

## په دُعا كښې د خِلافِ شَرع شعرونو نه ځان ساتئ

كه په دُعا كښې شعرونه وئيل غواړئ نو صرف د مُستنَدو عُلَماء شعرونه لولئ، ځكه چې د غير محتاط او جاهلو شاعرانو بعضې شعرونه خلافِ شَرع بلكه په كُفرياتو هُم مُشتمِل وي.

## په ډير سوچ او فكر دعا كوئ

حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام يوه ورځې د يو داسې سړي په خوا تير شولو چې د هغه خيټه سرې خورو ځنارو شلولي وه او غوښې ئې ترينه په شوكولو شوكولو خوړلي وې. حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هغه اوپيژندلو او د **الله** تعالیٰ په بارګاه كښې ئې عرض اوكړو چې: اے زما **ربه**! دا خو ستا فرمانبردار وو نو دا زه څه وينم؟ **الله** تعالیٰ حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي را اوليږله چې: اے موسیٰ (عَلَيْهِ السَّلَام)! دے كس زما نه د يو داسې مَرتَبې دُعا اوكړه چې هغې ته دے د خپلو اعمالو په ذريعه نه شو رسيدلے، ما دے په دے تكليف كښې اخته كړو چې هغه درجې ته اورسي. (تَنبِيهُ الْمُغتَرِين و من اخلاقهم كثرة الصبر على البلايا و لنوازل الخ، ص ١٧٣)

# په دُعا کښې د غیر محتاطه جُملو 18 قِسمونه

په دُعا کښې د غیر مُحتاطه جملو نه پرهیز کوئ. د غیر محتاطه جملو 18 مثالونه سره د صحیح جُملو اوګورئ:

| مُحتاط جُملے | غیر مُحتاطه جُملے |
|---|---|
| یا الله پاکه! خومره خلق چې ستا په بارګاه کښې حاضر دي د هغوئي سوال قبول کړے! | یا الله پاکه! خومره خلقو چې ستا بارګاه ته تشریف راوړے دے د هغوئي سوال قبول کړے! |
| یا **الله**! که په **قَبْر** کښې مونږ ته د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دیدار په وخت کښې د هغوئي پیژندګلو نصیب نه شوه نو مونږه به برباد شو! اے **الله**! مونږ ته ئے پیژندګلو رانصیب کړے. | یا **الله**! که **قَبْر** کښې مونږ ته د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار نصیب نه شو نو مونږه به برباد شو. |
| اے د مورنه هُم زیات مَحبَّت کوونکیه | اے د اویا میندو نه هم زیات د مَحبَّت جذبه لرونکیه! |
| زمونږه نیك ګُمان دے چې د عاشقانِ رَسُول مَدَني قافِلو کښې یا د سُنَّتو ډکو اِجتِماعاتو کښې دعاګانے قبلیږي. | مونږه اوریدلي دي چې د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو یا هفته واره اِجتِماع کښې دعاګانے قبلیږي. |
| یا **الله** پاکه! د **قَبْر** زور کول حق دي، کرم اوکړے چې زمونږه قبر مونږ داسے | یا **الله** د **قَبْر** د زور کولو نه مو اوساتے. |

| | |
|---|---|
| | زور کړي لکه مور چې خپل بچے سینے ته جوختوي، مونږه اوریدلي دي چې **قَبْر** داسے زور کول کوي چې د مړي **پُښتۍ** ماتے شي او په یوه بله کښے پیوست شي. یا **الله** مونږه د **قَبْر** داسے زور کولو نه اوساتے. |
| یا **الله!** د امیرِ اَهلِسُنَّت او مَشائخِ اَهلِسُنَّت سورے زمونږه په سرونو قائم و دائم لرے. | یا **الله!** د امیرِ اَهلِسُنَّت او مَشائخِ اَهلِسُنَّت مبارك سورے تر ډیرے مودے پورے زمونږه په سرونو لرے. |
| ستا د رحمت په صدقه. | ستا د رحمت په خاطر. |
| د ځنکدن د حالت نه مو اوساتے | د ځنکدن د تکلیفونو نه مو اوساتے |
| یا الله پاکه! که تا هم پریښودلو نو څه به کوو؟ | یا الله پاکه! که تا په مونږه نظرِ رحمت اونکړو نو څه به کوو؟ |
| یا **الله** مونږه د خپلو قدمونو نه مه لرے کوے. | یا **الله!** مونږ د خپل رحمت نه مه **محرُومه** کوے (یاد ساتئ! الله **تعالیٰ** د لاسو او ښپو نه پاك دے) |
| یا **الله** پاکه! تا ته په دے بیمارانو، **مجبورو**، قرضدارو او کمزورو باندے ترس کول پکار دي. (په دے جُمله کښے د شکایت معنٰی ده او دا کُفر دے.) | یا **الله** پاکه! په دے بیمارانو، **مجبورو**، قرضدارو او کمزورو باندے د رحمت نظر اوفرمائے. |

| | |
|---|---|
| یا **اللّٰه!** د ټولو مسلمانانو بے حسابه بخښنه اوکړے. | یا **اللّٰه!** د ټولو مسلمانانو بخښنه اوکړے. |
| یا **اللّٰه!** زمونږه ټول خواهشات پوره کړے. | یا **اللّٰه!** زمونږ په نیکو او جائزو خواهشاتو د رحمت نظر اوفرمائے. |
| یا **اللّٰه!** بیمارانو ته شفائے کامِله و دائمه ورکړے. | یا **اللّٰه!** بیمارانو ته شفائے کامِله عاجِله ورکړے. |
| یا **اللّٰه!** مونږ ته په مصیبتونو صبر راکړے. | یا **اللّٰه!** مونږه د مصیبتونو نه په حفاظت کښے اوساتے او خیر راکړے. |
| یا **اللّٰه!** مونږ ته همیشه د پاره تندرستي راکړے. | یا **اللّٰه!** مونږ ته د خیر و عافِیَت والا ژوند راکړے. |
| یا **اللّٰه!** مونږ ته د دواړو جهانو ټول خیرونه راکړے. | یا **اللّٰه!** مونږ ته د دُنیا او آخرت ښیګړے رانصیب کړے. |
| یا **اللّٰه!** مونږه د غټو او وړو ټولو مرضونو نه په حفاظت کښے اوساتے. | یا **اللّٰه!** مونږه د موذي [یعني تکلیف ورکوونکو] مرضونو نه په حفاظت کښے اوساتے. |

اوس د بَرَکت حاصلو د پاره د شیخِ طریقت، امِیرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په **مختلفو** موقعو باندے غوښتي یو څو دُعاګانے اوګورئ:

## د امیرِ اَھلِسُنَّت دُعاګانې (مختصر او ترمِیم شُده)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ

یا رَبَّ الۡمُصطَفٰی...! یا ربَّ الۡاَنۡبِیاء...! یا رَبَّ الصَّحابه...! یا رَبَّ التَّابِعِین...! یا رَبَّ الۡاَوۡلِیا...! اے زمونږ د اِمام اعظم اَبُو حَنِیفه رَبــه...! اے زمونږ د اِمام شافِعِي رَبــه...! اے زمونږ د اِمام اَحمد بِن حَنبل رَبــه...! اے زمونږ د اِمام مالِك رَبــه...! اے زمونږ د غوثُ الاعظم رَبــه...! اے زمونږ د خواجه غریب نواز مَولا ...! اے زمونږ د داتا علي هجوَیري مَولا ...! اے زمونږ د بهاءُ الدِّین زَکریا مُلتاني رَبــه...! اے زمونږ د شاه رُکنِ عالَم رَبِّ لَمۡ یَزَل...! اے د اولیائے کرامو پروردګاره...! اے د ګنهګارو بخښونکیه...! اے مریضانو ته شِفاء ورکوونکیه...! اے د بے وسو مدد کوونکیه...! اے ډوبیدونکي بچ کولو والا ربــه...! اے غورزیدونکي بچ کولو والا...! اے د ټول کائنات پالونکیه ربــه...! اے مونږ ذلیلو ته د عِزَّت تاج په سر کولو والا ربــه...!

ستا ګنهګارو، بد کِردارو بندګانو ستا د بارګاه نه د رَحمت خیرات غوښتلو د پاره د ګناهونو نه ډك لاسونه پورته کړي دي... اے **الله**! مونږه اعتراف کوو چې مونږه د ګناهونو نه ټوله زمکه ډکه کړي ده... اے **الله**! زمونږه د اعمالنامے تور والے د شپے د تیارے نه هم زیات تور دے... اے

اللہ عَزَّوَجَلَّ! زمونږ په اعمالنامه کښے د لرے لرے پورے نیکئ نه ښکاري... که لـمونځ ادا کړو نو هُم د ظاهري او باطِني آدابو نه بالکل خالي وي... اے مَولا! که روژه اونیسو نو هُم توله ورځ د ګناهونو نه ډډه نه کوو... یا اللہ عَزَّوَجَلَّ! که ستا په لاره کښے څه ورکړو نو هُم اخلاص پکښے نه وي... خو اے مولائے کریم! ته زمونږه د زړونو د حال نه خبر ئے، مونږه ستا نه دا نیك ګُمان لرو چې ته به مونږه ضرور اوبخښے... اے اللہ عَزَّوَجَلَّ! ستا محبوب تول عُمر ستا نه زمونږ د مغفرت سوالونه کړي دي... چې د معراج سعادت ورنصیب شو نو هغه وخت ئے هُم مونږه هیر نه کړو... په خپل روښانه قَبْر مبارك کښے هُم مونږه یادوي (کَنْزُ الْعُمَّال، کتابُ القِیامة، بابُ الشَّفاعة، الجزء ۱۴۰، ۷/۱۷۸، حدیث ۳۹۱۰۸) او په محشر کښے به هُم ستا محبوب مونږه یاد ساتي... کله به د پُل صِراط سره سَجْده کښے پریوځي او 'رَبِّ سَلِّمْ اُمَّتِيْ رَبِّ سَلِّمْ اُمَّتِيْ' (مُسلِم، کتاب الایمان، ادنی اهل الجنة منزلةً فیها، ص ۱۰۷ حدیث ۴۸۲ بلالفاظ مختلفة) یعني "مولا! زما اُمَّت په سلامتئ سره تیر کړے" دا دعاګانے به کوي... کله به مِیزانِ عمل ته تشریف راوړي او په خپل کرم به زمونږه ګنهګارو د نیکئ سپکے تلے درَنوِي. په حوضِ کوثر به خپلو ګنهګارو اُمَّتیانو باندے د حوضِ کوثر نه ډك ډك جامونه څښَي... اے اللہ عَزَّوَجَلَّ! ستا د محبوب هُم دا خواهش دے چې مونږ په تکلیف کښے اخته نه شو، زمونږه په مشقت کښے اخته کیدل په نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے سخت تیریږي. اے اللہ! د خپل مَحْبُوب په خاطر زمونږه بخښنه اوکړے... اِلٰهُ الْعَالَمِیْن! مونږه د جَهنَّم د اورنه اوساتے.

خدائے غفار بخش دے اب، لاجِ محبوب رکھ ہی لے اب
ہمارا غم خوار فکرِ امت میں دیکھ آنسو بہا رہا ہے

یا اِلٰهَ الْعٰلَمِین! زمونږه کمزوري او ناتواني ته وِینے، اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! په کرم موسم کښے مونږه د غرمے نمر نه شو برداشت کولے نو اے مولائے کریم! مونږه به د جَهنَّم اور څنګه برداشت کړے شو... اے اللّٰه! که په ائرکنډیشنډ کمره کښے په نرمه نرمه بستره باندے مو ماشے اوچیچي نو هُم بےقراره شو نو اے اللّٰه! په توره تِیاره قَبْر کښے به مونږه د لړمانو چیچل څنګه برداشت کړو.

ڈنک مچھر کا بھی مجھ سے تو سہا جاتا نہیں
قبر میں بچھو کے ڈنک کیسے سہوں گا یارب

گر تو ناراض ہوا تو میری ہلاکت ہوگی
ہائے میں نارِ جہنم میں جلوں گا یارب

عفو کر اور سدا کے لیے راضی ہو جا
گر کرم ہو گا تو جنت میں رہوں گا یارب

گر تیرے پیارے کا جلوہ نہ رہا پیش نظر
سختیاں نزع کی کیوں کر میں سہوں گا یارب

نزع کے وقت مجھے جلوہ محبوب دکھا
تیرا کیا جائے گا میں شاد مروں گا یارب

اے بے نیازه رَبه! ستا بے وسه او عاجزه بندګان ستا په بارګاه کښې د خپلے عاجزۍ او نیازمندۍ اعتراف کوي. یا **اللّٰه**! ستا نه پټ څوك څه کولے شي... یا **اللّٰه**! تا ته خو د زړونو حالات هُم معلوم دي... یا **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! مونږه د خپلو ګناهونو اعتراف کوو، د دُنیا دستور خو دا دے چې څوك د خپل جُرم اعتراف اوکړي نو هغه ته سزا ورکولے کيږي خو ستا د رَحمت دستور جُدا دے، څوك چې ستا په بارګاه کښے د خپلو ګناهونو اعتراف اوکړي او پښیماني راوړي نو ستا رَحمت په جوش کښے راشي... اے **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! ستا محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته ستا دا اِرشاد هُم رارسولے دے چې ته فرمائے "سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ غَضَبِيْ' یعنی زما رَحمت زما په غضب باندے غالِب دے."[4] نو اے **اللّٰه**! مونږه اعتراف کوو چې مونږه ستا د قَهر و غضب راپارولو والا کارونه کړي دي خو ستا رَحمت ستا په غضب باندے غالب دے... اے مولا! مونږه ستا د قهر و غضب نه ستا امان غواړو. مونږ ته د خپل قهر او غضب نه امان راکړے... په مونږ باندے د خپل رحمت څادر اوغوړوے... د

[4] (مُسلِم، کتابُ التَّوبة باب فی سعة رحمة اللّٰه تعالٰی...الخ ص ۱۱۲۹، حدیث ۶۹۷۰)

خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر زمونږه، زمونږ د مور او پلار او د ټولو مسلمانانو بخښنه اوکړے...

سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ عَلٰى غَضَبِيْ تو نے جب سے سنا دیا یا رب
آسرا ہم گناہ گاروں کا اور مضبوط ہو گیا یا رب

یا اِلٰهَ الْعٰلَمِین! مونږه د کُفر نه نفرت کوو... یا الله! مونږه اسلام سره مَحبَّت لرو... مونږه د دُنیا ټول دولت پریښودے شو، مونږه هرڅه ورکولے شو، خپل ځان هُم ورکولے شو خو ستا په قَسَم چې مونږ چا ته خپل ایمان نه شو ورکولے... یا الله! زمونږه دا جذبه مضبوطه کړے او زمونږه ایمان سلامت لرے... مولا! د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دیدار کښے په مدینهٔ مُنَوَّره کښے شهادت رانصیب کړے... او په جَنَّتُ الْبَقِيْع کښے خښیدل رانصیب کړے... یا الله! زمونږه قَبْر د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظارو آباد کړے... یااِلٰهَ الْعٰلَمِین! په محشر کښے د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم په لـمن کښے ځائے رانصیب کړے... د مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت رانصیب کړے... پُل صِراط باندے آساني راکړے... اے الله عَزَّوَجَلَّ! په جَنَّتُ الْفِرْدَوْس کښے را ته بے حسابه د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصیب کړے.

ہر وقت جہاں سے کہ انہیں دیکھ سکوں میں
جنت میں مجھے ایسی جگہ پیارے خدا دے

مولا! ته بے نیازه ئے، یقیناً ته زمونږه د عبادت حاجت نه لرے خو مولا! مونږه ستا د عبادت حاجتمند یُو. مونږه بندګان یُو، بندګي کول غواړو... یا **اللّٰه**! زمونږه زړونه په لـمانځه کښے اولګوے... یا **اللّٰه**! مونږه د **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو عملي نمونه جوړ کړے... **یَااِلٰهَ الْعٰلَمِین**! مونږه د دروغو، غیبت، **چغُلئ**، وعده خلافئ، کنزلو او بدو ردو، بدګُمانئ، بدکلامئ، بد اخلاقئ، بدنګاهئ او هر قِسمه ګناهونو نه حفاظت کښے اوساتے... د ګناهونو عادتونه مو لرے کړے... اے ربِّ کریم! ستا په بارګاه کښے مو یو خاص سوال دے... [او هغه دا دے چې] یا **اللّٰه**! زمونږه خالي ځولو کښے د عِشقِ رَسُول خیرات راواچوے...

**یَااِلٰهَ الْعٰلَمِین**! دلته ستا بندګانو د دُعا د پاره لاسونه اوچت کړي دي، په دوئي کښے به څوك غریب د روزئ په وجه پریشانه وي، یا **اللّٰه**! تۀ له ته فراخه رِزقِ حلال ورکړے... قناعت ورکړے... **یَااِلٰهَ الْعٰلَمِین**! پته نشته څومره عاجزه قرضدار به راغلي وي چې هغوئي به ډیر پرشانه وي، [د ډیرے پریشانئ نه به ئے] خوب تښتیدلے وي، قرضدار به ئے پریشانه کوي، یا **اللّٰه**! د دوئی په حال باندے رحم اُوفرمائے او د دوئي د قرض ادا کولو ذریعه جوړه کړے... مولائے کریم! پته نشته چې څومره مریضان او د هغوئي نمائندګان به راغلي وي... یا **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! ډیر په اُمِّید به راغلي وي... یا **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! د خپل

محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر دے بیمارانو ته شِفاء ورکړے... اے مولا! دا مریضان د دے ځائے نه خوشحاله پاخوے... د ټولو بیمارئ، تنګدستئ، بے روزګارئ، قرضدارئ، بے اولادئ، مُقدمے او کورنئ جګړے [په خیر] ختمے کړے.

یااِلٰهَ الْعٰلَمِین! دعوتِ اسلامي ته ډیره ډیره ترقي ورکړے، زمونږه د مَجلِسِ شُورئ د ټولو اَراکین و نګران او د نورو مجالِسو د اَراکین و نګران، د ټولو مُبَلِّغینو، مُعَلِّمینو، مُدَرِّسینو، مُحِبِّینو او ټولو اسلامي ورونړو او اسلامي خویندو په مسائلو د رحمت نظر اوفرمائے. اِلٰهَ الْعٰلَمِین! مونږ ټولو ته د دِین و دُنیا ډیر ډیر بَرَکتونه راکړے.

کہتے رہتے ہیں دعا کے واسطے بندے تیرے
کردے پوری آرزو ہر بے کس و مجبور کی

وائي بنـــدګان ستـــا، د پـاره د دُعـا
پوره کړے د هر بے وَسه او مجبوره مُدَّعا

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَ سَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د صحرائے مدينه (کراچۍ) د دُعا ابتدائي حصّه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَللّٰھُمَّ ﴿رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝۲۰۱﴾ (پ۲ البقرة:۲۰۱)

اَللّٰھُمَّ ﴿رَبَّنَاۤ اَفْرِغْ عَلَیْنَا صَبْرًا وَّ ثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَ انْصُرْنَا عَلَی الْقَوْمِ الْكٰفِرِیْنَ ۝۲۵۰﴾ (پ۲ البقرة:۲۵۰)

اَللّٰھُمَّ ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ اِسْرَافَنَا فِیْۤ اَمْرِنَا وَ ثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَ انْصُرْنَا عَلَی الْقَوْمِ الْكٰفِرِیْنَ ۝۱۴۷﴾ (پ۴ اٰلِ عِمران:۱۴۷)

اَللّٰھُمَّ ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَاۤ اَنْفُسَنَا ٚ وَ اِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ۝۲۳﴾ (پ۸ الاعراف: ۲۳)

اَللّٰھُمَّ ﴿رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیٰنِیْ صَغِیْرًا ۝۲۴﴾ (پ۱۵ بنی اسرآئیل: ۲۴)

اَللّٰھُمَّ ﴿فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۫ اَنْتَ وَلِیّٖ فِی الدُّنْیَا وَ الْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا وَّ اَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ ۝۱۰۱﴾ (پ۱۳ سورۂ یُوسُف: ۱۰۱)

اَللّٰھُمَّ ﴿رَبِّ اجْعَلْنِیْ مُقِیْمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنْ ذُرِّیَّتِیْ ۖ رَبَّنَا وَ تَقَبَّلْ دُعَآءِ ۝۴۰ رَبَّنَا اغْفِرْ لِیْ وَ لِوَالِدَیَّ وَ لِلْمُؤْمِنِیْنَ یَوْمَ یَقُوْمُ الْحِسَابُ ۝۴۱﴾ (پ۱۳ ابراهیم: ۴۰، ۴۱)

اَللّٰھُمَّ ﴿رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَ ذُرِّیّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْیُنٍ وَّ اجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِیْنَ اِمَامًا ۝۷۴﴾ (پ۱۹ الفرقان: ۷۴)

اَللّٰھُمَّ ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِیْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِیْمَانِ وَ لَا تَجْعَلْ فِیْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَاۤ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ۝۱۰﴾ (پ۲۸ الحشر: ۱۰)

اَللّٰھُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِکْرِکَ وَ شُکْرِکَ وَ حُسْنِ عِبَادَتِکَ (اَبو داوٗد، کتاب الوتر، باب فی الاستغفار ج۲ ص۱۲۳ حدیث۱۵۲۲)

یَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِیْ عَلٰی دِیْنِکَ (ترمِذی، کتاب القدر، باب ما جاء ان القلوب ......الخ ج۴ ص۵۵ حدیث ۲۱۴۷)

اَللّٰھُمَّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُبِکَ مِنْ قَلْبٍ لَا یَخْشَعُ وَمِنْ دُعَاءٍ لَا یُسْمَعُ وَمِنْ عِلْمٍ لَا یَنْفَعُ اَعُوْذُبِکَ مِنْ هٰؤُلَاءِ الْاَرْبَعِ۔ (ترمِذی، کتاب الدعوات باب ت:۶۹، ۵/۲۹۳، حدیث ۳۴۹۳)

یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْن۔۔! یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْن۔۔۔! یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْن۔۔۔! یَا رَبَّنَا۔۔۔! یَا رَبَّنَا۔۔۔! یَا رَبَّنَا۔۔! یَا رَبَّنَا۔۔۔! یَا رَبَّنَا۔۔۔! یَا اَللّٰهُ۔۔۔! یَا رَحْمٰنُ ۔۔۔! یَارَحِیْمُ۔۔۔!

اے مریضانو ته شفا ورکوونکیه...!!! اے زمونږ ګنهګارو عیبونه پټوونکیه...!!! اے د پریشان حالو پریشانۍ لرے کوونکیه مولا...!!! اے مونږ ذلیلانو ته د عِزَّت تاج په سر کولو والا...!!! ستا ګنهګاران بدکاره بندګان حاضر دي...!!!

| | |
|---|---|
| کر کے توبہ پھر گناہ کرتا ہے جو | میں وہی عطار ہوں کر دو کرم |

اے **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! مونږ په ګناهونو ککړو اعمانامو سره حاضر یُو... لاسونه مو هُم په ګناهونو تور دي، مخونه مو هُم په ګناهونو تور دي... مولا! زړه مو هُم تور تور دے... ټول بدن مو په ګناهونو ککړ دے.... مولا! زمونږه د زړه سختي ورځ په ورځ زیاتیږي... اے مولا! زمونږه حال ډیر بد دے.

| | |
|---|---|
| آہ! ہر لمحہ گنہ کی کثرت و بھر مار ہے | غلبہ شیطان ہے اور نفسِ بد اطوار ہے |
| مجرموں کے واسطے دوزخ بھی شعلہ بار ہے | ہر گنہ قصداً کیا ہے اس کا بھی اقرار ہے |
| چھپ کے لوگوں سے گناہوں کا رہا ہے سلسلہ | تیرے آگے یا خدا! ہر جرم کا اظہار ہے |

# د دُعائے شَبِ براءَت ابتدائي حصّه

بے وفا دنیا پہ مت کر اعتبار تو اچانک موت کا ہوگا شکار
موت آ کر ہی رہے گی یاد رکھ جان جا کر ہی رہی یاد رکھ
گر جہاں میں سو برس تو جی بھی لے قبر میں تنہا قیامت تک رہے
قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار
یاد رکھ! میں ہوں اندھیری کوٹھڑی تجھ کو ہوگی مجھ میں سن وحشت بڑی
میرے اندر تو اکیلا آئے گا ہاں! مگر اعمال لیتا آئے گا
گھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
کام مال و زر نہیں کچھ آئے گا غافل انساں! یاد رکھ پچھتائے گا
قبر میں تیرا کفن پھٹ جائے گا یاد رکھ! نازک بدن پھٹ جائے گا
سانپ بچھو قبر میں گر آگئے کیا کرے گا بے عمل گر چھا گئے
گورِ نیکاں باغ ہوگی خلد کا مجرموں کی قبر دوزخ کا گڑھا
کر لے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! شَبِ براءَت د نجات شپه ده..... بیمارو نه د خلاصي شپه ده..... تنګدستئ نه د خلاصي شپه ده..... د ځنګدن د سختو نه د خلاصي شپه ده..... عذابِ قبر نه د خلاصي شپه ده..... د قبر د تِیارے نه

د خلاصي شپه ده.... د قيامت د سختو نه د خلاصي شپه ده.... د دوزخ د اور نه د خلاصي شپه ده.... د ګناهونو د بيمارۍ نه د خلاصي شپه ده.... نَبِيِّ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے چې كله د شعبان پينځلَسمه شپه (يعني شَبِ بَراءَت) راشي نو په هغه شپه كښے قِيام اوكړئ او په هغه ورځ روژه اونيسئ ځكه چې الله تعالىٰ د نمر پريوتلو نه پس نه واخله په دُنياوي آسمان باندے خاص تجلي كوي او اعلان فرمائي چه: "آيا څوك شته بخښنه غوښتونكے چې زه هغه اوبخښم! آيا څوك شته روزي غوښتونكے چې زه هغه ته روزي وركړم! آيا څوك شته په مصيبت كښے آخته چې زه هغه ته خلاصے وركړم، آيا څوك شته داسے! آيا څوك شته داسے! مسلسل داسے غږونه كيږي تر دے چې سحر را اوخيژي. (اِبنِ مَاجَه، كتاب اقامة الصلاة باب ما جاء فِي ليلة النصف من شعبان، ج ٢ ص ١٦٠ حديث ١٣٨٨) هُم دغسے په نن شپه كښے د الله تعالىٰ رحمت آواز كوي... د هغه رَحمت خو زمونږ طرف ته مائل دے خو آه! مونږ ته د دعا كولو طريقه نه راځي... اے د خپل آخرت خير غوښتونكو اِسلامي ورونړو! په فرياد او زارۍ، كه كيدے شي نو په ژړا ژړا د الله رَحمت اوغواړئ... آو! آو! نن هغه شپه ده، په كومه شپه چې د رَحمت درے سوه دروازے بيرته كيږي. (نُزهَةُ المجالِس، باب فصل شعبان و فصل صلاة التسابيح ج ١، ص ٢١٠)

راځئ چې د الله تعالىٰ رحمت حاصلولو د پاره په شريكه دُعا اوكړو.

## د دُعائے شَبِ قدر ابتدائي حصّه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اوس یو څو ورځے د هر یو په خُله دا خبره وه چې بس د رمضان شریف میاشت راتلو والا ده، او بیا واقعي یو څو ورځے پس ځان سره رحمتونه او بَرَکتونه راوستلو والا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت ښکاره شو... هر طرف ته خوشحالیانے شوے، هر مسلمان خوشحاله شو، جُماتونو کښے سپرلي راغلل، د روژه ماتي محفلونه لګیدل شروع شو، د مونځ ګُزارو شمیر زیات شو، دا د خوشحالئ ورځے ډیرے تیزئ سره تیریدل شروع شوے... او آه! اوس ووه ویشتمه شپه راغله... اوس د رمضان صرف درے یا څلور ورځے پاتے شوے. نو څوك چې د رمضان قدردان وو، په راتلو ئے خوشحاله شوي وو او اوس چې د رمضان د رخصتیدلو وخت څومره رانزدے کیږي د رمضان د عاشقانو د زړونو خفګان ورځ په ورځ زیاتیږي... په غم کښے ئے ساعت په ساعت اضافه کیږي. د رمضان د تلو غم وهلو، د رمضان په جُدائي کښے د خفګان کوونڪو ترجماني چا په دے الوداعِیه شعرونو کښے کړي ده، دا الوداع په ژړا ژړا د زړه په غوږونو واورئ او خپل زړونه د خفګان کیفیت راپیدا کیدو ته پریږدئ...

آه! کیا ماهِ مبارک ہم سے ہوتا ہے جدا　　　آه! کیسا منبعِ برکات دنیا سے چلا

آہ! جب اس میں نہیں ہم سے ہوئی طاعت ادا

پھر وداع اس کو نہ کیوں رورو کریں ایسا بجا

الوداع الوداع اے ماہِ غفراں! الوداع

حسرتا واحسرتا اے ماہِ رمضاں الوداع

اَلْوَدَاع اَلْوَدَاع یَا شَهْرَ رَمَضَان۔۔۔ اَلْفِرَاق اَلْفِرَاق یا شَهْرَ غُفران۔۔۔

الوداع الوداع یَا شَهْرَ تراویح۔۔۔ اَلْفِراق اَلْفِراق یا شَهْرَ تراویح۔۔۔

الوداع الوداع شَهْرَ رَمَضَان۔۔۔ اَلْفِراق اَلْفِراق یا شَهْرَ رَمَضَان۔۔۔۔

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

یا اللّٰه! تا په خپل فضل او کرم مونږ ته د رمضان میاشت راکړه، چې د دے هر ساعت د رحمتونو نه ډك دے... په هر ساعت کښے د نیکو موقعے وے.... د رحمتونو تیز بارانونه راوریدل... د جَنَّت ټولے دروازے بیرته شوے... د دوزخ ټولے دروازے بندے شوے... شیطان هُم قید کړے شو... ډیر ډیر رحمتونه او بَرَکتونه رانازل شو... آه! بیا هُم مونږه غافلانو د رمضان د رحمتونو نه حِصَّه وانخستے شوه... افسوس! مونږه د رمضان د میاشتے قدر اونکړے شو، د نیکو اجر و ثواب ډیر زیات کړے شو خو هائے افسوس! مونږه نیکئ اونکړے شوے، آخر دا چې ووه ویشتمه شپه راغله... ظاهر

خو مو ډیر بنه وو خو باطِن مو هُم هغسے خِیرن او تَك تور... اے پروردګاره! جِبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام دُعـا کړي وه چې چا ته رمضان ملاو شي خو خپل مغفرت پـکښے اونکړے شي نو د هغه پوزه دِ خړه شي، هغه کس دِ برباد شي او د رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن کیدو باوجود پرے زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اٰمین مُهر اولګولو... (كَنْزُ الْعُمَّال، كتاب الصوم، باب فصل فِي فصله و فصل رمضان الجزء ٨٠ ج٤ ص٢٧٠ حديث ٢٤٢٩٠ ماخوذاً)

نو یقیناً ثوك چې د رمضان حاصلولو باوجود د مغفرت او بخښنے نه محروم پاتے شو هغه هلاك او برباد شو... اے مالِكِ کریم! مونږه د خپل مغفرت د پاره هیڅ هُم نه دي کړي. اے زمونږه خوږه ربه! که زمونږ بخښنه اونشوه نو مونږ به برباد شو... اے مالِكِ کریم! اے د رَسُولِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پروردګاره! د خپل رحمت والا محبوب په خاطر زمونږه بخښنه اوکړے... اے ربِّ کریم! مونږه عَشَرۂ رحمت په غفلت کښے تیره کړه، بیا عَشَرۂ مغفرت هُم لاړه، او اوس د جهنَّم نه د آزادئ عَشَره هُم رخصتیدو والا ده، اے **اللّٰه**! مونږه کمزورو باندے رحم اوفرمائے... اے پروردګاره! د خپل محبوب د پاکیزه اوښکو په خاطر، مونږه د دوزخ د اور نه په امان کښے اوساتے....

## د میدانِ عَرَفات د دُعا ابتدائي حصّه

میں مکے میں پھر آ گیا یا الٰہی  کرم کا ترے شکریہ یا الٰہی

نہ کر رد کوئی التجا یا الٰہی ہو مقبول ہر اک دعا یا الٰہی

رہے ذکر آٹھوں پَہر میرے لب پر ترا یا الٰہی ترا یا الٰہی

مری زندگی بس تری بندگی میں ہی اے کاش گزرے سدا یا الٰہی

نہ ہوں اشک برباد دنیا کے غم میں محمد کے غم میں رُلا یا الٰہی

عطا کر دے اخلاص کی مجھ کو نعمت نہ نزدیک آئے ریا یا الٰہی

مجھے اولیا کی محبت عطا کر تو دیوانہ کر غوث کا یا الٰہی

میں یادِ نبی میں رہوں گم ہمیشہ مجھے ان کے غم میں گھلا یا الٰہی

مرے بال بچوں پہ سارے قبیلے پہ رحمت ہو تیری سدا یا الٰہی

دے عطاریوں بلکہ سب سُنیوں کو مدینے کا غم یا خدا یا الٰہی

خدایا! اجل آ کے سر پر کھڑی ہے دکھا جلوہ مصطفٰے یا الٰہی

مری لاش سے سانپ بچھو نہ لپٹیں کرم از طفیل رضا یا الٰہی

تو عطار کو سبز گنبد کے سائے میں کر دے شہادت عطا یا الٰہی

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْن---! یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْن---! یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْن---! یَا رَبَّنَا---!
یَا رَبَّنَا---! یَا رَبَّنَا---! یَا رَبَّنَا---! یَا رَبَّنَا---! یَا رَبَّنَا---! یَا رَبَّنَا---!

اے د خوږ مُصطَفیٰ ربّـه ....! اے د ابراهیم او اِسماعیل ربّـه ....! ستا رِښتوني خلیل حضرتِ سَیِّدُنا ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام مونږ ته د حج دعوت راکړے وو او مونږه پرے لَبَّیْك وئیلے وو او نن ستا د خلیل په هغه دعوت مونږه ستا میلمانه جوړ شوي په عرفات کښے جمع یُو.... اے مالِك و مولا! په دُنیا کښے دا اُصول دے چې کوربه د خپل میلمه زړه خوشحالوي، نو اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ستا میلمانه یُو... **یااِلٰهَ الْعٰلَمِین!** مونږه مه **محرومه** کوے... **یا الله! یا الله!** نن چې څنګه مونږه په میدانِ عرفات کښے ستا میلمانه یُو... هُم دغسے مونږه په جَنَّت کښے هُم خپل میلمانه جوړ کړے...

لَبَّیْكَ اَللّٰھُمَّ لَبَّیْك لَبَّیْكَ لَا شَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْك اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لَا شَرِیْكَ لَك... لَبَّیْكَ اَللّٰھُمَّ لَبَّیْك لَبَّیْكَ لَا شَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْك اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لَا شَرِیْكَ لَك... لَبَّیْكَ اَللّٰھُمَّ لَبَّیْك لَبَّیْكَ لَا شَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْك اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لَا شَرِیْكَ لَك

## په اِجتِماعِ میلاد کښے د غوښتے دُعا ابتدائي حصّه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

جَزَی اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُه--- اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَة--- اَللّٰهُمَّ مَا اَصْبَحَ بِیْ مِنْ نِّعْمَةٍ، اَوْ بِاَحَدٍ مِّنْ خَلْقِكَ، فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِیْكَ لَكَ، فَلَكَ الْحَمْدُ، وَلَكَ الشُّكْرُ---

لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ۔۔۔ اَللّٰهُمَّ بَلِّغْنَا رَمَضَانَ بِالصِّحَّةِ وَالْعَافِيَةِ۔۔۔

یا ربِّ مُصطَفیٰ! په خاطر د مُصطَفیٰ! ستا د محبوب په مَحبَّت کښې د جَشنِ وِلادَت په خوشحالئ کښې عاشقانِ رَسُول راجمع شوي دي، یا الله عَزَّوَجَلَّ! د ټولو حاضري قبوله کړے... مولا! مونږه ګنهګار یُو، بدکرداره یُو، وران کاري یُو، خو مولا! تا سره مَحبَّت کوو، ستا د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندے عمل کولو کښې کمزوري یُو خو ستا محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ضرور مَحبَّت کوو، مولا عَزَّوَجَلَّ! که ته صرف نیکانو باندے فضل اوکړے نو مونږ ګنهګار به د چا دروازے ته اودریږو، مولا! د جَشنِ وِلادَت په خاطر، د مخلِصینو په خاطر! زمونږه بخښنه اوکړے... د حقیقي عاشقانِ رسول په خاطر مونږه ناقصه هم قبول کړے... یا الله! د بدے خاتِمے نه یَریږو، الله زمونږ خاتِمه بهتره کړے... یا الله! مونږ نیك جوړیدل غواړو خو نفس و شیطان مو نیك جوړیدو ته نه پریږدي، مولا! د جَشنِ وِلادَت په خاطر مونږه نیك مُتَّقِي، پرهیزګار جوړ کړے... دُښمن د عالَمِ اسلام خلاف ګنده سازشونه کوي، مولا! په عالَمِ اسلام کښې اتفاق او اتحاد پیدا کړے... مسلمانان نیك او مُتَّحِد کړے...

## د یوولسمے شریفے د دُعا ابتدائي حصّه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! ستا په کرم مونږ ته یو ځل بیا ستا د مقبول بنده، ستا د ولي او زمونږ د غوثِ پاك سیِّد شیخ عبدُ القادِر جِیلاني رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْه یوولسمه شریفه نصیب شوه... د غوثِ پاك د ایصالِ ثواب د پاره چې مونږه ستا څه ناقص عبادتونه اوکړے شو د مخلصینو په خاطر هغه قبول کړے... اے **الله** عَزَّوَجَلَّ!د مُرشِدِي غوثِ اعظم په خاطر زمونږه بے حسابه بخښنه اوکړے، د ځنکدن په وخت کښے ستا د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار هُم رانصیب کړے... د خُلَفائے راشِدِین دِیدار هُم رانصیب کړے... زمونږ د مُرشِدِ کریم غوثِ اعظم دیدار هُم رانصیب کړے... د اعلٰی حضرت دیدار هُم رانصیب کړے... د سیِّدی قُطبِ مدینه دیدار هُم رانصیب کړے... چې د اولیاء دِله هُم وي... اے کاش! چې د هغوئي په نندارو کښے زمونږه رُوح اوخیژي... خوَږه مدینه کښے د شهادت سعادت رانصیب کړے... جَنَّتُ الْبَقِیْع کښے خخیدل رانصیب کړے... او په جَنَّتُ الْفِرْدَوْس کښے ستا د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ګاونډ کښے ځائے رانصیب کړي...

## د مُفتئ دعوتِ اسلامي د جنازے نه پس غوښتي دُعا ابتدائي حصّه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾

يارَبِّ الْمُصطفٰى! زمونږه ټولو ګناهونه معاف کړے... يا الله عَزَّوَجَلَّ! زمونږه ټولو بخښنه اوکړے... د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول اُمَّت بخښنه اوکړے... يا الله عَزَّوَجَلَّ! د مرحوم مُفتي محمد فاروق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بخښنه اوکړے... يا الله عَزَّوَجَلَّ! نزدے ده چې هغوئي به په قَبْر کښے يواځے پريښودلے شي... يا الله عَزَّوَجَلَّ! زمونږه د حاجي فاروق په قَبْر باندے د رَحمت و رِضوان د ګُلونو باران اوکړے... يا الله عَزَّوَجَلَّ! د قَبْر د يَرے او تنګئ نه ئے په حفاظت کښے اوساتے، په قَبْر کښے امن ورنصيب کړے... يا الله عَزَّوَجَلَّ! قَبْر مُجرِمان داسے زور کوي چې پُښتئ ئے ماتے شي او په يوه بله کښے ورشي خو ستا نيك بندګان داسے زور کوي لکه مور چې خپل ورك شوے بچے اوومومي او سينے ته ئے راجوخت کړي. (بهارشريعت ج۱، ص۱۰۵ ماخوذاً) يا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ستا نه د رَحمت درخواست کوو چې زمونږه فاروق بهائي دِ قَبْر داسے زور کړي څنګه چې مور خپل ورك شوے بچے اوومومي او په ډيره مينه ئے په غيږه

کښې پټ کړي او سینې ته ئې راجوخت کړي... اے مولا! د مرحوم قَبْر د نظر د حده پورے فراخه کړے... یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زما فاروق د هر تکلیف نه په امان کښې اوساتے... یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زما د فاروق ټول ګناهونه معاف کړے... یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زما فاروق د قَبْر د ویرے نه اوساتے، د قَبْر د تنګئ نه ئے اوساتے... یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زما فاروق د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظارو کښې مشغول کړے. یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روښانه مخ په خاطر زما د فاروق قبر روښانه کړے... یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زما فاروق اوبخښے... د خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر... د مُرسِلِینو په خاطر... د صحابه په خاطر... د تابِعِینو په خاطر... د سیِّدُ الشُّهَدا اِمام حُسین په خاطر... د سیِّدُنا عبّاس عَلَمدار په خاطر... د علي اکبر او علي اصغر په خاطر... د کربلا د هر شهید او اَسِیر په خاطر زما د فاروق قَبْر د جَنَّت باغ جوړ کړے... یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دوئي عالِـمِ دِین وو دوئي چې ستا د دِین کوم خدمت کړے دے هغه قبول کړے... اے مولا! دا عاجزه زمونږ نه په ډیره ځوانئ کښې رُخصت شو... اے د رحمت والا مولا عَزَّوَجَلَّ! ستا رحمت ته حواله دے... اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ستا رحمت ته حواله دے... اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ستا رحمت ته حواله دے... اے مولا عَزَّوَجَلَّ! زما د غوثِ پاك په خاطر! زما فاروق باندے کرم اوکړے... زما د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خاطر... زما د پیر و

مُرشِد سیِّدِی قُطبِ مدینه ضیاءُ الدِّین مَدَني په خاطر! زما فاروق باندے کرم اوکړے... دوئي ته د رحمتونو د سوري لاندے ځائے ورکړے... د دوئی په قَبْر باندے د رحمتونو سورے اوکړے... یا **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! د دوئي فیوض و برکات تر قیامته پورے جاري ساتے... یا **اللّٰه**! ټولو ته د ایمان سلامتي نصیب کړے... مونږ ټولو ته په مدینهٔ مُنَوَّره کښے د ګُنبَدِ خَضرا نه لاندے د محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظارو کښے شهادت رانصیب کړے... په **جَنَّتُ الْبَقِیْع** کښے خخیدل او **جَنَّتُ الْفِرْدَوْس** کښے د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصیب کړے... **یَااِلٰهَ الْعٰلَمِین**! زما فاروق ته هُم په جَنَّت کښے د محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ نصیب کړے... یا **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! د دوئي د کور کسانو ته د دوئي دوستانو ته او د دعوتِ اسلامي مرکزي **مجلِسِ** شوریٰ ته صبرِ جمیل ورکړے او په دے صبر اجر ورکړے... **یَااِلٰهَ الْعٰلَمِین**! د دوئي د کور کسان د ګِله او شکایت کولو نه اوساتے. **اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د مَدَني مذاکرے په ختمیدلو دعا کول

یا ربِّ مُصطَفیٰ! د نن مَدَني مُذاکرے او تر اوسه پورے چې ما سره څه نیکۍ دي د هغے ثواب ستا بارګاه کښے پیش کووم، قبول ئے کړے... یا ربِّ کریم عَزَّوَجَلَّ! د دے نیکو ثواب زما د عمل مطابق نه بلکه د خپل رحمت شایانِ شان راکړے.

زما د نيکو ثواب او ما ته د ايصالِ ثواب شوو نيکو ثواب زمونږ له طرفه خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عنايت کړې. په وسيله د رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تمامو انبياء و مُرسلِين... خُلَفائے راشِدِين... اُمَّهاتُ المُؤمِنِين... ټولو صحابه و تابِعِين و تَبع تابِعِين... ائمۀ مُجتَهِدِين... عُلَمائے کامِلِين... مَشائِخِ عامِلِين... مُفَسِّرِين... مُحَدِّثِين... تمام بُزرګانِ دِين... ټول مُؤمِنات و مُؤمِنِين... مُسلِمات و مُسلِمِين ته دا ثواب اورسوې. او بِالخُصُوص والِدَينِ مُصطَفىٰ، حَسَنَينِ کَرِيمَين، شهيدان و اسيرانِ کربَلا... جميع اَهلِبَيتِ اِطهار... اِمامِ اعظم... غوثِ اعظم... اِمامِ غزالي... غريبِ نواز... اعلیٰ حضرت... صدرِ شريعة... قُطبِ مدينه... صدرُ الاَفاضِل... مُفتي احمد يار خان... مُفتئِ دعوتِ اسلامي... حاجي مُشتاق... حاجي زَم زَم رضا... تمام مُبَلِّغات و مُبَلِّغِين مرحُومِين او د مَدَني انعاماتو عامِلات و عامِلِين ته دا ثواب اورسوې.

يا الله! زمونږه ټولو ګناهونه معاف کړې... مولا! زمونږه بې حسابه بخښنه اوکړې... يا الله! عُمر په ختميدو دې خو د ګناهونو عادت مو نه ختميږي، مولا! داسې کرم اوکړې چې د ګناهونو عادت مو ختم شي... مولا! داسې کرم اوکړې چې د نيکو کولو عادت مو جوړ شي... يا الله! [داسې کرم اوکړې] چې کله ستا بارګاه کښې حاضر شو نو چې هيڅ ګناه هُم راباندې بار نه وي... يا الله عَزَّوَجَلَّ! يقيناً مونږ کښې د عذاب زغملو

طاقت نشته، مولا! كرم اوكړے او زمونږه قبر د مارانو او لړمانو ځائے جوړ مه كړے... مولا! زمونږه قبرونه ستا د محبوب په نُور روښانه كړے... يَااِلٰهَ الْعٰلَمِين! كومو كومو اِسلامي ورونړو چې را ته د دُعـا د پاره وئيلي دي د هغوئي په جائزو مُرادونو د رحمت نظر اوفرمائے.

كهتے رهتے هيں دعا كے واسطے بندے ترے كردے پورى آرزو هر بے كس و مجبور كى

وائي بنـدګان ستـا، د پـاره د دُعـا يا رب

پوره كړے د هر بے وَسه او مجبوره مُدَّعا يا رب

## خلويښت قرآني دُعـاګانے

1. رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۱۲۷﴾

اے زمونږه ربـه! زمونږ له طرفه ئے قبول كړے، بيشكه هُم ته اوريدونكے او پوهه ئے.

2. رَبَّنَا وَ اجْعَلْنَا مُسْلِمَیْنِ لَكَ وَ مِنْ ذُرِّیَّتِنَاۤ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ۪ وَ اَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَ تُبْ عَلَیْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ﴿۱۲۸﴾

اے زمونږه ربـه! او جوړ كړے مونږه ستا په باركاه كښے غاړه اينبودونكي او زمونږ د اولاد نه يو اُمَّت ستا فرمانبردار، او مونږ ته زمونږ د عبادت قاعدے اوښائے او په مونږه خپل رحمت سره رُجُوع اوفرمائے او بيشكه هُم ته ئے ډير توبه قبلوونكے مهربانه.

3. رَبِّ اجْعَلْنِیْ مُقِیْمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنْ ذُرِّیَّتِیْ ﳓ رَبَّنَا وَ تَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾

اے زما ربه! ما لمونځ قائمولو والا اوساتے او څه زما اولاد، اے زمونږه ربه! او زمونږه دُعا قبوله کړے.

4. رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَاۤ اِنْ نَّسِیْنَاۤ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ

اے زمونږه ربه! مونږه مه نیسے، که مونږ نه هیر شي یا خطا اوکړو.

5. رَبَّنَا وَ لَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَ اعْفُ عَنَّا ۥ وَ اغْفِرْ لَنَا ۥ وَ ارْحَمْنَا ۥ اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۲۸۶﴾

اے زمونږه ربه! او په مونږه هغه بوج مه اچوے د کوم چې مونږ طاقت نه لرو او مونږه معاف کړے او مونږه اوبخښے او په مونږه رحم اوفرمائے، ته زمونږه مولا ئے، نو د کافرو خلاف زمونږه مدد اوفرمائے.

6. رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَیْتَنَا وَ هَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۸﴾

اے زمونږه ربه! زمونږه زړونه مه کږوے، پس له دے نه چې تا مونږ ته هدایت راکړو، او مونږ ته له خپل طرفه رحمت عطا کړے، بیشکه هُم ته ئے لوئ ورکوونکے.

7. رَبَّنَاۤ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِیَوْمٍ لَّا رَیْبَ فِیْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُخْلِفُ الْمِیْعَادَ ﴿۹﴾

اے زمونږه ربـه! بیشکه ته د ټولو خلقو جمع کوونکے ئے، د هغه ورځے د پاره چې په هغے کښے هیڅ شك نشته، بیشکه د **اللہ** وعده نه بدلیږي.

8. رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَ اتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿۵۳﴾

اے زمونږه ربـه! مونږ په هغے ایمان راوړلو څه چې تا نازِل کړل او د رَسُول تابِع شُو، نو مونږه په حق باندے ګواهي ورکوونکو کښے اولیکے.

9. رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ اِسْرَافَنَا فِیْۤ اَمْرِنَا وَ ثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَ انْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۴۷﴾

اے زمونږه ربـه! زمونږه ګناهونه معاف کړے او کوم زیاتے چې مونږه په خپلو کارونو کښے کړے دے. او زمونږه قدمونه کلَك کړے او زمونږ مدد اوفرمائے د دے کافرو خلاف.

10. رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾

اے زمونږه ربـه! تا دا بیکاره نه دي جوړ کړي، پاکي ده تا لره، ته مونږه د دوزخ د اور نه اوساتے.

11. رَبَّنَاۤ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَیْتَهٗ ؕ وَ مَا لِلظّٰلِمِیْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾

اے زمونږه ربـه! بیشکه ته چې څوك دوزخ ته بوځے، هغه ته تا ضرور رُسوائي ورکړه او د ظالـمانو هیڅ څوك مددګار نشته.

12. رَبَّنَاۤ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِیًا یُّنَادِیْ لِلْاِیْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ۖۗ

اے زمونږه ربه! مونږه د يو غږ کوونکي نه واوريدل چې د ايمان د پاره غږ کوي چې په خپل رب ايمان راوړئ نو مونږه ايمان راوړلو.

13. رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾

اے زمونږه ربه! ته زمونږه ګناهونه معاف کړے او زمونږه بدئ له مينځه يوسے او زمونږه مرګ د نيکانو سره کړے.

14. رَبَّنَا وَ اٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَ لَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾

اے زمونږه ربه! او مونږ ته راکړے هغه، د څه چې تا مونږ سره وعده کړي ده د خپلو رسولانو په معرفت، او مونږه د قيامت په ورځ مه رُسوا کوے، بيشکه ته د وعدے خلاف نه کوے.

15. رَبَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۳﴾

اے زمونږه ربه! مونږه ايمان راوړلو، نو مونږه د حق په ګواهانو کښے اولِيکے.

16. رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾

اے زما ربه! ما ته زيات عِلم راکړے.

17. رَبَّنَا ظَلَمْنَاۤ اَنْفُسَنَا ٚ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾

اے زمونږه ربه! مونږ ځان سره بد اوکړل، نو که ته مونږه اُو نه بخښے او په مونږه رحم اونکړے نو مونږه ضرور نقصان والؤ کښے شولو.

18. رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾

اے زمونږه ربه! زمونږه او زمونږ د قوم په مينځ کښې حق فيصله اُوفرمائے او ستا فيصله د ټولو نه بهتره ده.

19. رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾

اے زمونږه ربه! په مونږه صبر راتوے کړے او مونږه مسلمانان اوچت کړے.

20. رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾

اے زمونږه ربه! مونږه د ظالمو خلقو د پاره ازميښت مه جوړوے.

21. رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِيْ وَمَا نُعْلِنُ ؕ

اے زمونږه ربه! بيشکه ته خبر ئے څه چې مونږ پټ کوو او څه چې ښکاره کوو.

22. رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿۴۱﴾

اے زمونږه ربه! ما اوبخښے او زما مور پلار او ټول مسلمانان په کومه ورځ به چې حساب قائميږي.

23. رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّهَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا ﴿۱۰﴾

اے زمونږه ربه! مونږ ته له خپل طرفه رَحمت راکړے او زمونږه کار کښې زمونږ د پاره د لار موندلو اسباب جوړ کړے.

24. رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ﴿۴۵﴾

اے زمونږه ربه! بيشکه مونږه يَريږو چې هغوئي چرے په مونږه زياتے اونکړي يا سرکشئ سره راوړاندے نه شي.

25. رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَ ارْحَمْنَا وَ اَنْتَ خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾

اے زمونږه ربه! مونږه ايمان راوړلو، نو مونږه اوبخښے او په مونږه رحم اوکړے او ته د ټولو نه بهتر رحم کوونکے ئے.

26. رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖۗ اِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿۶۵﴾

اے زمونږه ربه! زمونږ نه واړوے د جَهنَّم عذاب، بيشکه د هغے عذاب د غاړے زندئ ده.

27. رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَ ذُرِّیّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْیُنٍ وَّ اجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِیْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾

اے زمونږه ربه! مونږ ته راکړے زمونږ د بيبيانو او زمونږ د اولاد نه د سترګو يخوالے او مونږه د پرهيزګارو پيشوا [يعني مشران] جوړ کړے.

28. رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَیْءٍ رَّحْمَةً وَّ عِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِیْنَ تَابُوْا وَ اتَّبَعُوْا سَبِیْلَكَ وَ قِهِمْ عَذَابَ الْجَحِیْمِ ﴿۷﴾

اے زمونږه ربه! ستا په رحمت او عِلم کښے هر څيز ځائيږي، ته هغه اوبخښے چا چې توبه اوکړه او ستا په لاره روان شو او هغوئي د دوزخ د اور نه اوساتے.

29. رَبَّنَا وَ اَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِۣ الَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ

اے زمونږه ربـه! او هغوئي د اوسيدلو باغونو کښې داخل کړے، د کومو چې تا هغوئي سره وعده کړي ده.

30. رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَ لَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اے زمونږه ربـه! مونږه اوبخښے او زمونږه ورونړه، کومو چې زمونږ نه مخکښې ايمان راوړو او زمونږه زړه کښې د ايمان والؤ له طرفه کِينه مه ساتے.

31. رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَ اِلَيْكَ اَنَبْنَا وَ اِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۴﴾

اے زمونږه ربـه! مونږه صرف په تا تَوَکُّل اوکړو او هُم ستا طرف ته مو رُجُوع راوړه او هُم ستا په طرف ګرځيدل دي.

32. رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ اغْفِرْ لَنَا

اے زمونږه ربـه! مونږه د کافِرو په ازميښت کښې مه اچوے او مونږه اوبخښے.

33. رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾

اے زمونږه ربـه! مونږ ته په دُنيا کښې ښيګړه راکړے او مونږ ته په آخرت کښې ښيګړه راکړے او مونږه د دوزخ د عذاب نه اوساتے.

34. رَبَّنَا وَ لَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ

اے زمونږه ربـه! په مونږه درونډ بوج مه اچوے څنګه چې تا زمونږ نه مخکښنو باندے اچولے وو.

35. رَبَّنَاۤ اِنَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۶﴾

اے زمونږه ربـه! مونږه ایمان راوړو، ته زمونږه ګناه معاف کړے او مونږه د دوزخ د عذاب نه اوساتے.

36. رَبِّ اَوْزِعْنِیْۤ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِیْۤ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ وَ عَلٰی وَالِدَیَّ وَ اَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَ اَدْخِلْنِیْ بِرَحْمَتِكَ فِیْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۹﴾

اے زما ربـه! ما ته توفیق راکړے چې زه شُکر اوکړم ستا د احسان، کوم چې تا په ما او زما په مور او پلار کړي دي او دا چې زه هغه ښه کار اوکړم کوم چې تا ته خوښ شي او ما په خپل رَحمت په خپلو هغه بندګانو کښے شامل کړے کوم چې ستا د خاص نزدیکت مُستَحِق دي.

37. رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ ﴿۲۵﴾ وَ یَسِّرْ لِیْۤ اَمْرِیْ ﴿۲۶﴾ وَ احْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ ﴿۲۷﴾ یَفْقَهُوْا قَوْلِیْ ﴿۲۸﴾

عرض ئے اوکړو چې: اے زما ربـه! زما د پاره زما سِینه خلاصه کړے او زما د پاره زما کار آسان کړے او زما د ژبے غُوټه خلاصه کړے چې هغوئي زما په خبره پوهه شي.

38. رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیٰنِیْ صَغِیْرًا ﴿۲۴﴾

اے زما ربـه! ته په هغه دواړو رحم اوکړے څنګه چې زه هغوئي دواړو په ماشوم والي کښے ساتلے ووم.

39. رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ الۡقَوۡمِ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۴۷﴾

اے زمونږه ربه! مونږه ظالمانو سره مه کړے.

40. رَبَّنَاۤ اَتۡمِمۡ لَنَا نُوۡرَنَا وَاغۡفِرۡ لَنَا ۚ

اے زمونږه ربه! زمونږ د پاره زمونږه نُور پوره کړے او مونږه اوبخښے.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کېدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربيت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 I Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com I E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com